PROPERTY OF ACKU

دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

درس قرآن

او ای انسانه! ته نه گورې چې الله پاک د ځمکې ټول څیزونه درته تابع کړي. او هغه کښتۍ هم چې د الله په حکم په بحر کې چلیږي. او اسمان یې ټینگ نیولي چې دهغه له اجازې پرته په ځمکه رانه پریوزي بې له شکه الله پاک په خلکو ډیر مهربان او ډیر رحم والا دی. او الله هغه ذات دی چې تاسې یې ژوندي کړئ بیا مو مره کوي او بیا مو بیرته راژوندي کوي. ربښتیا هم چې انسان ډیر ناشکره دی. (سورة الحج: ٦٥ - ٦٦ آیتونه)

درس حدیث

از ابو عمر یا ابو عمره سفیان بن عبد الله رضی الله عنه روایت است که گفت:

گفتم: یا رسول الله برای من در اسلام سخنی بگو که بعد از تو از کسی نپرسم. فرمود: بگو بخدا ایمان آوردم (آمنت بالله) و سپس استقامت کن و پایدار باش. (ریاض الصالحین)

شهادت پنځم کال، ۱۳ مه گڼه، پرله پسې ۲۱۲ مه گڼه چهارشنبه ۱۳۹۲ هـ ل د غبرگولی ۲۹ مه د۱۴۳۴ هـ ق د شعبان ۱۱ مه د۲۰۱۳ م د جون ۱۹ مه

په قطر کې د طالبانو سیاسي دفتر پرانیستل شو

طالبان به په قطر کې د دفتر په پرانیستو له افغانانو سره لیدنې کتنې وکړي او د ملگرو ملتونو، نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو او غیرحکومتي موسسانو سره به اړیکې ټینگې کړي. او د یاد دفتر له لارې به د اوسنیو سیاسي حالاتو په اړه خپل سیاسي لیدلوري او بیانونه د رسنیو په واک کې ورکوي.

کابل، رسنۍ:

د راپورونو له مخې، په قطر کې د وسله والو طالبانو سیاسي دفتر پرانیستل شو.

یوې سرچینې د نوم نه ښودو په شرط پژواک خبري اژانس ته وویل،...

پاتې ۴ مخ

نیروهای افغان رهبری تمام عملیات های نظامی را به عهده گرفتند

حامد کرزی گفت:

"افغانستان یک بار دیگر از همکاران بین المللی خود می خواهد

بقیه در صفحه ۴

کابل، رسانه ها:

نیرو های امنیتی افغان در حالی رهبری عملیات های نظامی را به عهده می گیرند که هنوز هم در بخش امنیت در این کشور مشکلات و تشویش های موجود اند. رییس جمهور کرزی واگذاری رهبری عملیات های نظامی به قوای افغان را موفقیت برای افغانستان خوانده گفت که نیرو های افغان و خارجی برای به دست آوردن آن قربانی های زیادی داده اند.

آقای کرزی گفت که دفاع از خاک این کشور مسوولیت نیرو های افغان بوده و اطمینان داد که افغان ها از قوای امنیتی شان حمایت می کنند. وی در بخش از صحبت هایش از جامعه بین المللی خواست که تلاش های بیشتری را در زمینه تجهیز و تقویت نیرو های افغان به خرج بدهند.

چکي سوداگر په افغانستان کې بانکي اچونې ته لیواله دي

کابل، رسنۍ:

د چک هیواد سوداگرو د سې شنبې په ورځ په هیواد کې له بانگه اچونې څخه د ملاتړ اداري او حکومتي چارواکو په گډون په یوې غونډه کې په افغانستان کې د سوداگرۍ پر فرصتونو خبرې وکړې.

دا په داسې حال کې چې ابسا بیا په افغانستان کې له بانکه اچونې څخه د ملاتړ اداره وایي چې؛ لوس هم داسې سکتورونه په هیواد کې موجود دي چې بانکي اچونې ته اړتیا لري.

د پینځو چکي شرکتونو سوداگر د

پاتې ۴ مخ

عالم ساعی:

جنرال دوستم در شمال اسلحه توزیع کرده است

کابل، رسانه ها:

با آنکه مردم از بیرون شدن سربازان خارجی و دوباره به قدرت رسیدن زورمندان بعد از سال ۲۰۱۴ نگران اند، اما از همین اکنون توزیع سلاح در شمال افغانستان آغاز شده است. محمد عالم ساعی والی جوزجان می گوید، در یک تعداد ولسوالی های شمال افغانستان جنرال عبدالرشید دوستم به منظور بقای قدرت برای طرفداران خویش سلاح توزیع کرده است.

به عقیده وی توزیع این سلاح نشان دهنده آغاز جنگ های داخلی، بعد از بیرون شدن نیروهای خارجی در سال ۲۰۱۴ است. آقای ساعی می گوید، جنرال دوستم می خواهد با توزیع سلاح یک بار دیگر در شمال افغانستان به قدرت نا مشروع خویش ادامه دهد.

آقای ساعی می گوید: (در ولسوالی آقچه، مینگجیک، مردان قریه جات اطراف شهر شبرغان، ولسوالی خواجه دوکو که زادگاه خودش است. قریه جات مسیر سرپل شبرغان سلاح توزیع کرده و می خواهد در این مناطق حاکمیت داشته باشد.)

بقیه در صفحه ۴

مرسی:

حزب الله از سوریه بیرون شود

مصر، رسانه ها:

جنگجویان حزب الله لبنان که از حمایت ایران برخوردار اند باید از سوریه بیرون شوند. محمد مرسی این تقاضا را در هنگام سخنرانی خود به علمای سنی در شهر قاهره کرد.

جنگجویان حزب الله در سوریه در پهلوی نیرو های حکومت به رهبری بشارالاسد در برابر شورشیان مخالف رژیم می جنگند.

مرسی که از حمایت گروه اخوان المسلمین برخوردار است افزود:

"حزب الله باید از سوریه بیرون شود. این یک سخن جدی است. حزب الله در سوریه به هیچ وجه جای ندارد."

مرسی همچنین حمایت مصر را از مخالفان سوریه ابراز کرد و گفت که مصر سفارت سوریه را در قاهره می بندد و شازدافیر مصر را هم از سوریه فرا می خواند.

وی گفت: "مردم سوریه با یک کمپاین پلان شده، نابودی...

بقیه در صفحه ۴

امریکا له طالبانو سره د مخامخ خبرو اعلان وکړ

امریکا د دغو خبرو لپاره خپل شرایط هم لري: طالبان باید له القاعدې سره خپل ټول اړیکې پرې کړي، له زور زیاتي لاس واخلي او د ښځو او لږه کیو د حقونو په گډون د افغانستان اساسی قانون ته درناوی ولري

امریکا، رسنۍ:

د امریکا د حکومت جگپوړي چارواکي په قطر کې د طالبانو لپاره د سیاسي دفتر پرانیستل د سولې پر لور یو لوی گام بولي.

طالبان په دوحه کې دفتر پرانیزي او له متحده ایالتو سره مخامخ خبرې اترې پیلوي – د دغو خبرو یوه موضوع به د بندیانو تبادله وي، خو په لومړنیو اوونیو کې به داوړه غاړې یوازې دا گورې چې د مقابل لورې اجندا څه ده.

خو امریکا د دغو خبرو لپاره خپل شرایط هم لري:

طالبان باید له القاعدې سره خپل ټول اړیکې پرې کړي، له زور زیاتي لاس واخلي او د ښځو او لږه کیو د حقونو په گډون د افغانستان اساسی قانون ته درناوی ولري.

پاتې ۴ مخ

په خوست ولایت کې دحزب اسلامي افغانستان ولایتي دفتر پرانیستل شو

دهیواد په سویل ختیز خوست ولایت کې دحزب اسلامي افغانستان ولایتي دفتر د یو لړ شاندارو مراسمو په ترځ کې پرانیستل شو.

له خوست ولایت نه دشهادت اوونیزې خبریال خبرراکوي چې دروان کال دغبرگولي پر۱۸ مه دسه شنبې په ورځ دحزب اسلامي افغانستان یو لوړ رتبه پلاوي دولایتي مسؤول الحاج مدیر سید الرحمن واحدیار په مشرۍ خوست ولایت ته سفر وکړ او نږدې یوه اونۍ یې په خوست کې تیره کړه. پدې یوه اونۍ کې هیئت له بیلابیلو شخصیتونو، علماء کرامو، جهادي قوماندانانو، دپوهنتون استادانو، محصلینو او د حزب له متعهدینو سره له نږدې لیده کاته وکړ او خوست کې یې په شتو ستونزو او مشکلاتو او دهغې نه د وتو پر لارو چارو خبرې وکړې، وروسته له ځانگړو ناستو اوکتنو پلاوی دحزب یوه درنه غونډه راوبلله

پدې غونډه کې چې یو شمیر خوست میشتو حزبیانو اومجاهدینو ټکې برخه اخیستې وه، په خوست ولایت کې دحزب اسلامي دولایتي شورا او دفتر پر پرانیسته هر اړخیزې خبرې وکړې، وروسته له اوږدو بحثونو او مشورو په خوست ولایت کې د ولایتي شورا د دفتر په پرانیسته هوکړه وشوه او د هیئت په مشرۍ دحزب اسلامي غړو ترمنځ ټاکنې وشوې چې په پایله کې:

۱- دکتورمحمد موسی خاورین د ولایتي شورا د مشر په توگه، ۲- قوماندان عجب نوردمرستیال په توگه، ۳- مولوي نثار احمد دعلماؤ دکمیتې دمشر په توگه، ۴- انجنیر بخت نور بختیار دفرهنگي مسؤول په توگه، ۵- انجنیر عبدالمجید د دعوت اوتنظیم دمسؤول په توگه، ۶- انجنیر عبدالبصیر دمالي مسؤول په توگه، ۷- انجنیر نصرت الله دانتخاباتو دکمیتې دمسؤول په توگه او داکتر مشال دځوانانو دمسؤول په توگه وټاکل شو.

قیادت، آزادی و انتخابات

(تورن غلام سخی) - صفحه دوم

ولې پاکستان ته د جان کري پلان شوی سفر ځنډیدلی؟

رسنۍ:

پاکستاني چارواکي دې هیواد ته د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر د کیبدونکي سفر د ځنډیدو خبر ورکوي.

پاکستاني چارواکي وایي چې؛ د امریکا د بهرنیو چارو وزیر پاکستان ته پلان شوی سفر

پاتې ۴ مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

سوله نعم البدل نه لري

د الجزیرې تلویزیون د رپوټ له مخې وسله والو طالبانو پرون د سه شنبې په ورځ د قطر په پلازمینه دوحه کې د سولې د خبرو اترو لپاره دفتر پرانیست، د تلویزیون د رپوټ له مخې دغه دفتر به د سولې د خبرو په موخه د طالب استازو له خوا کارول کېږي.

افغان حکومت هم په قطر کې د وسلوالو طالبانو لپاره د دفتر د پرانیستل کېدو هرکلی کړی، جهادي او سیاسي مشرانو هم له ولسمشر حامد کرزي سره په مشورتي غونډه کې ټینګار کړی چې افغانان سولې ته د رسېدو لپاره له طالبانو سره د خبرو په موخه په قطر کې د دفتر له جوړېدو سره موافق دي.

په دې کې هېڅ شک نشته چې د مسلمانانو ترمنځ سوله یېز ژوند تېرول او پخپل هېواد کې د سولې فضأ قایمول الهي امر دی، دا د هر افغان مسلمان دیني او ملي وجیبه ده چې د سولې لپاره کار وکړي ځکه چې سوله د هر انسان لومړی اړتیا ده، چېرته چې سوله نه وي هلته له مرګونو، وژنو، ورانیو، ویجاړیو، جهالت، غربت، ویره، غم، خپګان، پریشاني او دردونو پرته بل هېڅ نه وي، په داسې حال کې چې د اسلام سپېڅلی دین انسانانو ته د سولې په فضأ کې د ژوند تېرولو او پخپلو کې د مینې، ورورۍ، همدردي او ایثار د اړیکو پر ټینګولو تأکید کړی دی، فلهذا هر افغان د الله پر وړاندې مسؤول دی چې پخپل هېواد کې سولې ته لومړیتوب ورکړي او په هېڅ حالت کې د سولې په خلاف ګامونه اوچت نه کړي.

افغانستان کې د څو لسیزو راهیسې روانو جګړو دا راوښود چې دا د افغانانو د هېڅ درد دوا نشي کولې او تراوسه پورې چې جنګونو افغانانو ته کوم مادي او معنوي تاوانونه رسولي دي هغه نور له زغم نه وتلي دي، که چېرته ددغو جګړو مخه پروخت ونه نیول شي او افغانان د اتفاق او ورورۍ په تغر کیننې نو لیرې نه ده چې هر څه به یې تالا ترغه شي، نه به یې حکومت خپل وي او نه به یې خاوره، بیا به لاسونه مروړي خو هېڅ به نشي کولې، که افغانان واقعاً غواړي چې خپل حکومت، خپل واک او خپل هېواد ولري نو بیا د عقل او منطق لاره داده چې د جګړې له فکر او سوچ نه لاس په سر شي او په سلو کې سل د سولې او اتفاق فکر خپل کړي.

سوله هغه یواځینۍ معقوله لاره ده چې د افغانانو د ټولو هیلو د ترسره کېدو ضمانت ورکوي، د حکومت واکې هم د سولې له لارې ترلاسه کیدلې شي او د ژوند په ټولو ډګرونو کې هر اړخیز پرمختګ هم د سولې له لارې ممکن کیدلې شي، یعنې د سولې په صورت کې د هر افغان ارمانونه رڼیدلې، او د مراد خوږ ثمر ته رسیدلې شي، دینداري هم د سولې او امن په فضأ کې شونې ده او مالداري هم. همدا سوله یېز ژوند د انسان د پرمختګ او خوښې یواځیني بنسټ دی. په کومو هېوادونو کې چې سوله یېز ژوند تأمین شوې او وګړو د سولې او امنیت لاره غوره کړې هغوی خپل او راتلونکي نسلونو لمنی یې د خوښې او خوشالي له ګلونو ډکې کړي دي، هسکه غاړه او هسکه شمله ګرځي، نه یې ډوډۍ کمه ده او نه یې هم اوبه، نه له تعلیم نه پاتې دي او نه هم له عدالت نه، ډاکتران هم پریمانه لري او شفاخانې هم.

د ساینس او ټیکنالوژي په ډګر کې هم زیاتې لاسته راوړنې لري او په پوځي ډګر کې هم. دهغوی په څېر افغانان هم د سولې د ژوند د راخپلولو په وسیله د یو خوشحال او پرمختللې ژوند خاوندان کیدلې شي، الله دې وکړي چې له اوږدو جګړو او بې اتفاقیو د تاوانونو په لیدلو د سولې اهمیت وپېژنو او څومره ژر چې کیدلې شي د خپل دین د سرلوړۍ، د ولس او خاورې د خدمت او واقعي استقلال د ترلاسه کولو لپاره د ورورې او اتفاق په تغر کینو او په ګډه په یو غږ د سولې شعار زمزمه کړو. تر څو زموږ د ولس ټپي زړونه ټکور او راتلونکی نسل مو د آرام او خوشحال ژوند خاوندان شي، دافغانستان کړیدلی ولس په جدي ډول غواړي چې حکومت او مخالف وسلوال دغه حساس او نازک حالت درک کړي او د خپل دیني او ملي مسؤولیت په ښه ډول ترسره کولو سره له خپل دین، خاورې، استقلال او ولس سره د مینې رېښتوني ثبوت وړاندې کړي.

تورن غلام سخی

قیادت، آزادی و انتخابات

احمد شاه «وحدت»
Ahmad Shah WAHDAT
Mobile: 0700252598
E-mail: ahmadshahwahdat2@yahoo.com

وطن عزیز ما افغانستان کشوری که ۹۹٪ مردم مسلمان در آن زندگی میکنند، دین آبایی ما اسلام بوده و بیش از چهارده قرن بدینسو این دین مبین با قانون بزرگش قرآن بالای ساکنان این سرزمین همیشه تطبیق شده است، هیچ دین غیر از دین الهی که نجات بشر در آن نهفته است، نتوانسته که برای اندک زمانی در این سرزمین مورد عنایت قرار گیرد. دین زردشت، دین بودا، مسیحیت، یهودیزم و بالآخره مکتب کمونیزم هیچ کدام نتوانستند که برای همیشه مورد قبول مردم سلحشور و کفرشکن قرار گیرند، هر کدام با اندک زمانی و با درک از مفاهیم و ارزش های آن از طرف ساکنان این مرز و بوم مورد تردید قرار گرفته و بالآخره هویت فکری و اجتماعی خود را از دست داده اند. بخاطریکه ادیان سماوی بجز اسلام و ادیان غیر سماوی همه و همه برای نجات یک ملت و یا یک قوم تنزیل و تنظیم گردیده که جوابگوی مقتضیات بشری در اعصار مختلف گذشته نشده اند. نه تنها سبب نجات بشریت از بدبختیهای دامنگیر جوامع مختلف نگردیده اند بلکه اسباب نزاع و کشمکش های طبقاتی ملت ها را فراهم ساخته اند. و از طرف پیروان شان با گذشت زمان تحریف و فرسوده گردیده اند که دیگر برای عالم بشریت و جوامع متمدن امروزی قابل قبول نمیباشند. تا جائیکه دیده می شود در جوامع غیر اسلامی قوانین وضع جایگاه این ادیان را اشغال نموده است. ما نمونه های زیادی را گفته میتوانیم که از حوصله این مقال بیرون است. به هر ترتیب، دین اسلام آئین نجات بخش و دین حنیف است که مکتب اخلاق، معرفت و مطابق فطرت بشری تدوین یافته است. نظام اجتماعی انسانی بجز در تحت رهنمایی و هدایات این دین بزرگ که بانی آن مصلح بزرگ بشریت حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) میباشد، که همه دساتیر این دین جهانی را مطابق وحی الهی و نظر به مقتضیات جامعه تکمیل نموده است. که اگر غیر از این دین دیگری را کسی بخواهد مورد قبول خدا نخواهد بود. نظام تسریع و تکوین مطابق اراده الهی انسجام یافته است و در محور توحید متمرکز گردیده است. قانون این دین بزرگ قرآن میباشد که مبادی زندگی بشر تا پایه کمال از اخلاق، معرفت و تا پویایی و کرامت و خلافت انسان در آن تصریح و توضیح گردیده است. هیچ چیزی فروگذاشت در این کتاب بزرگ نگردیده است. هر کوچک و بزرگ از پدیده ها در آن مسطر است. انسان به عنوان خلیفه و امانت دار این قانون بزرگ الهی در آن تعریف و مکلف گردیده تا بعد از ایمان بخدا به تمام احکام آن پابند باشد. و آنچه خداوند در این کتاب به عنوان مکلفیت انسان تسریح نموده است، باید انسانیکه بخدا ایمان آورده است به آن تمسک نماید، پیروزی فلاح مسلمان در جز چنگ زدن به این ریسمان محکم راه دیگری وجود دارد. کشور اسلامی ما که از قرن ها به اینطرف به این قانونی آسمانی احترام گذاشته و مطابق دستورات آن به اوامر و نواهی آن خود را مکلف دانسته و همیشه خواهد دانست، نمیخواهد قانون دیگری، دین دیگری و یا مکتب دیگری به هیچ عنوان به هیچ ذریعه و وسیله جای این قانون بزرگ را که مبدأ آن وحی الهی است پُر نماید، تمام احکام دین از قبیل حقوق زن، مرد، جامعه، رعیت، حکومت، همه و همه با تمام جوانب آن بطور مفصل و واضح در این کتاب بزرگ دیده می شود، و تمام مسلمانانیکه در این خطهٔ مردخیز و باستانی زندگی دارند، مکلف اند تا قبل از تطبیق قوانین وضعی که ساخته عقل انسان است به قانون جاویدانه و انسان ساز اسلام پابند باشند و آنرا دستورالعمل در تمام شئون زندگی فردی و اجتماعی خویش قرار دهند.

طوریکه در این اواخر بنظر میرسد، دشمنان اسلام و وطن عزیز ما دست با هم داده در صدد توطئه تخدعه افکار مردم ما برآمده اند، تا انسانهای مؤمن و پابند به حق و حقیقت را از مسیر حق و تعالی منحرف بسازند. نابسامانیهای ناهنجار موجود ناشی از تفرقه و کشمکش های مذهبی، حزبی، قومی، سمتی و زبانی را بر ملت ما تحمیل نمایند، نباید قداست فکری و اعتقادی ما را زیر سوال ببرند، و دست تجاوزگران و غارتگران که همه هستی مادی و معنوی ما را به یغما برده اند، بالای ملت مسلمان ما دراز بسازند، عوامل داخلی و خارجی در طی چندین سال گذشته که مانع تشکیل یک حکومت مقتدر اسلامی در این سرزمین گردیده و نگذاشته که حکومت و دولت اسلامی شکل بگیرد، امروز که کشور ما در بحبوحهٔ بحرانها به صحنهٔ از خونریزی و کشتار مبدل گردیده با وصف آن هم عوامل بیرونی و داخلی که به ظاهر خود را مسلمان جلوه میدهند، در حالیکه هیچ حرکت شان مطابق به ارشادات دین ما نیست، میخواهند از این صحنه ها که حاصل آن کشتار فرزندان این سرزمین چیزی دیگری نیست سود ببرند و دوام سعادت خود را در جنگ و کشمکش هموطنان ما میبینند تا آن جائیکه حقوق زن را حسب خواست دموکراسی میخواهند بر ما تحمیل کنند و بر معتقدات ما عملاً تعرض نمایند و با براه انداختن صداها و انگیزه ها از طریق رسانه ها و تلویزیونها میخواهند به این مأمول غیر دینی خود فایق آیند و بنام آزادی رسانه ها در نظام دموکراسی ارزش های دینی ما را بیشتر از این به چالش بکشانند. آزادی در اسلام بمعنی این نیست که هر کسی هر چه میخواهد بکند، بلکه برای آزادی قانون و معیارهای درنظر گرفته شده که مطابق به آن باید حرکت نمود، حتی ما نظام آسمانی را ببینیم که اگر مداریکه برایش تعیین گردیده پا فراتر می نهد نظام کاملاً غیر متحرک گردیده و آن جسم از مدارش خارج شده و سقوط مینماید، آزادی به مفهوم این نیست که زنها بروی پرده های تلویزیون عریان و با قبیح ترین چهره به نمایش گذاشته شوند و یا اگر میخواهند به رضایت شان عمل نامشروع را انجام دهند، مخالفت در برابر شان صورت نگیرد و یا اینکه اگر میخواهند طلاق بگیرند به محاکم رجوع کنند. صحنه های تمثیل را بسازند و با مکیاژهای مختلف در برابر تماشاچیان جوان قرار بگیرد و یا با غیر محرم شرعی خویش هر کجا بخواهند بروند. این نوع آزادی ها از نظر اسلام مردود است و هیچ کس صلاحیت آنرا ندارد که بنام قانون مدنی و یا آزادی مطبوعات و یا آزادی رسانه ها این صحنه های مبتذل تمثیلی را فراهم نمایند. جهاد تنها به مفهوم این نیست که ما سلاح بر شانه کنیم و در برابر دشمنان دین و وطن بجنگیم، جهاد با شمشیر و قلم تعریف شده است. جهاد با قلم را همه میتوانند و در همه شرایط ضرور است که برای اصلاح جامعه و قانون در قدم اول باید از منبر قلم سخن گفت و در قسمت استوای نابرابری ها اقدام نمود، و همچنان جهاد با نفس را باید روا داشت و عقیدهٔ خود را سالم ساخت. قوانین دینی را کسانی نمیتوانند در جامعه تطبیق نمایند که تا حال فهم دینی را کسب نکرده اند و همه از عقل کوتاه بین که هیچ تصوری از منطق دین ندارند سخن میگویند امروز که ما منتظر اعاده صلح و ختم جنگ در کشور ما هستیم، هیچ گزینهٔ نداریم که برای ملت خود بخاطر ثبات و امنیت پیش نمائیم، از یکطرف جنگ خانمانسوز ملت ما را هر لحظه تهدید به نابودی مینماید از طرف دیگر دشمنان داخلی و خارجی ما بر عقاید دینی ما تاخت و تاز مینمایند و مردم که نگران خروج سربازان خارجی و انتقال روند سیاسی میباشند، با تصمیم گیری و توضیحات غیر مسؤولانه مقامات عالی رتبه دولتی که از عقب تریبون ها صورت میگیرد بیشتر هموطنان ما مورد تهیج و اضطراب قرار میگیرند. و نسبت به آینده شان مشوش و خیلی نگران هستند، به آینده خویش تاریک مینگرند. با سرو صداهای غیر قانونی که همه موانع بر سر راه انتخابات ریاست جمهوری را نشان میدهد، احساس مردم ما را ضربه زده و هیچ راه بیرون رفت را برای آینده خود و فرزندان خود نمی بینند.

همه در تنگنای تفکر فرو رفته اند، علی الرغم این همه مسایل بزرگان ما از تدویر لویه جرگه ها و اجماع ملی که همه بیانگر تغییر نظام در قانون اساسی است سخن میگویند، حتی سخن بجای کشیده که آنها از کنار رفتن قدرت اباء میورزند و زمینه های دیده می شود که ثابت کننده این مسیر میباشد. یکی از جمله راه های تأمین امنیت و ثبات در کشور انتقال مسالمت آمیز قدرت در نتیجه انتخابات شفاف، عادلانه و عاری از تقلب و تخلف می باشد، که ما میتوانیم بعد از رقابت سالم و قبول نتیجه انتخابات شفاف صلح و ثبات و امنیت را در صورتیکه مداخلات بیرونی متوقف گردد در این سرزمین اعاده نمائیم. قواء بین المللی هم هر روز ما را نسبت به آینده نگران میسازند. گهی از خروج کامل صحبت مینمایند، گهی از باقیماندن یکتعداد سربازان سخن میزنند.

ملت نمیداند که سرنوشت شان به چه شکل و به چه ترتیب تعین خواهد شد، و ما هر قدریکه بطرف نزدیک شدن به انتخابات میرویم همانقدر مشکلات امنیتی و اقتصادی بیشتر می شود، مخالفت های داخل پارلمان که نمایندگان ملت در آن حضور دارند، که یکی از امنیت صحبت میکند و از اسلام دفاع مینماید، دیگر بر ضد آن به اساس عقده های تاریخی که دارد در برابر آن می ایستد طرف مقابل را مورد سرزنش قرار میدهد، که اینهم نگرانی دیگریست که سبب اذیت و خشم مردم ما گردیده است، فراموش نباید کرد، اگر انتخابات سالم و شفاف صورت نگیرد و روند انتقال سیاسی مسالمت آمیز نباشد، و طبق آن مداخلات داخلی و خارجی ادامه پیدا کند. ما شاهد صلح و ثبات امنیت نخواهیم بود، همچنان باید دانست که یکی از عوامل جنگ در افغانستان آزادی های بی قیدو شرط رسانه ها و مداخلات جامعه مدنی و حقوق بشر در راستای تطبیق قانون اساسی و قضایی در کشور است، اگر جلو فساد اخلاقی و اداری در کشور گرفته نشود، هیچ گاهی وحدت ملی تأمین نگردیده و ما همیشه با دغدغه جنگ دچار خواهیم بود، ما هر قدر محارم شرعی را جایز بدانیم و آنرا به چشم ساده نظر کنیم، متیقن باشید که هیچ توفیق از جانب پروردگار حاصل این جامعه فقیر و تباه شده نخواهد شد، بیش از این نباید با همدیگر به تقابل پرداخت لازم است تا همهٔ مشکلات دامنگیر وطن خویش را از در تفاهم و مذاکره حل و فصل نمائیم، و قیادت سالم و مسلمان را برای این سرزمین برگزنیم، همچو گذشته ها اشتباه نکنیم که اشتباه عجولانه ما سبب ویرانی کشور و ادامه جنگ و خونریزی خواهد شد، همچنان دشمنان و دوستان این را بدانند که در این سرزمین اسلامی بدون تطبیق قانون اسلامی و انتخاب زعامت مسلمان که مورد تائید قاطبهٔ ملت مؤمن و مسلمان ما باشد، هیچ راه دیگری وجود ندارد که ما به یک جامعه خیر و فلاح و سعادت دست یابیم. کمک ها و حمایت کشورهای خارجی نمیتواند ما را از این آزمون بزرگ کامیاب بدر آرد، تا مردم ما با وحدت و یکپارچگی برای ختم جنگ و اعاده صلح تلاش نورزند.

محمد خلیل

ایا موږ د خپلو ګټو د پاللو حق نه لرو؟!

پردي کله هم دوست کېدلي نشي، بلکي هغوی تل د خپلو ګټو پسې منډې وهي، نه ښايي موږ له نورو نه دداسې دوستي تمه وکړو چې په سلو کې سل له موږ سره (لله فی الله) اخلاص ولري او هر څه د الله تعالی د رضا لپاره وکړي.

په دې نړۍ کې دوستي او دښمني دواړه د خپلو موخو او اغراضو د ترلاسه کولو لپاره کېږي، ځواک لروونکي هېوادونه له کمزورو هېوادونو سره يا نيغ په نيغه دښمني کوي او د زور له لارې خپل شوم اهداف ترلاسه کوي او يا هم د دوستي تر عنوان لاندې ورته د دوستي لاسونه غزوي او د څه راکړې ورکړې پر بنياد خپلې ګټې پالي.

کمزوري ولسونه هم د خپلو څينو مجبوريتونو او ضرورتونو له مخې له زورورو هېوادو سره چار او ناچار دوستي ته زړه ښه کوي، تر څو دهغوی په ملاتړ او مرسته لږ تر لږه د خپلې بقأ او ژوندي پاتې کېدو چانس ترلاسه کړي، خو ددې مطلب دا هم نه دی چې همیشه د بل چا په اوږو باروي او هرڅه له هغوی نه وغواړي، لکه زموږ د افغانستان وګړي چې په هر څه کې يې بل چاته لاسونه نيولي او پخپلو پښو د ودرېدو فکر نه کوي.

زمکني حقايق دا را په ګوته کوي چې نه دچا دښمني تل پاتې شوی او نه هم دوستي، د خپلو خپلو ګټو په پام کې نيولو سره ډېر دوست هېوادونه د خپلو مقاصدو له ترلاسه کولو وروسته د يو بل په خلاف د دښمنۍ په پوله ودريدلی دی او ډېر دښمن هېوادونه د خپلو ګټو د تأمين لپاره يو بل ته د دوستي لاسونه ورکړي دي، خو له بده مرغه د افغانستان چارواکو د دوستۍ او دښمنۍ د شطرنج په لوبه کې کله هم د لوبې له چلونو او تاکتيکونو څخه ګټه نه ده اوچته کړې يا په سلو کې سل د دوستانو په غېږ کې پريوتي دی او خپل تو واک يې ورته ورکړی او يا هم ورسره د دښمنۍ دومره سخته لاره يې نيولې چې هر څه يې د جګړې په اور کې ستي کړي دي، حال دا چې په اوسنۍ زمانه کې دوستي او دښمني د تجارت بڼه خپله کړې چې په هېڅصورت کې د تاوان کولو ګنجايش پکې نشته او په هر حالت کې به خپله ګټه او تاوان په پام کې نيول کېږي، د دښمنۍ په حالت کې به هم خپلې ګټې په نظر کې نيسي او دوستۍ په حالت کې به هم.

افغانستان د خپل تاريخ په حساسو پړاونو کې قرار لري، په دې وخت زموږ دوستان هم خپلې ګټې تعقيبوي او دښمنان مو هم، خو پوښتنه داده چې په دې نازکو او حساسو شرايطو کې پخپله د افغانانو څه مسؤوليت دی؟ آيا له دغه خړ سيلاب نه د وتلو لپاره به تر خپل آخري توانه لاسونه او پښې وهي او که په ډېره بې همتی سره به مرګ ته ځانونه سپاري؟! له څه شک پرته افغانان کولې شي چې له دغه اضطراري کيفيت نه سالم راووځي او بالاخر پخپلو پښو د ودرېدو جوګه شي خو دا هله چې افغانان د همت او غيرت ملا وتړي، داسې کومه تشه او خلا پرې نږدي چې دوست او دښمن د افغانانو له کمزورۍ نه د ګټې په اوچتولو د افغانستان د مظلوم او کړيدلی ولس مرۍ خفه او د هر څه مالکان شي. که افغانان واقعاً له خپل افغاني غيرت نه کار واخلي او د خپلو اسلافو په څېر په يو اتفاق له هر ډول حالاتو او واقعاتو سره مقاومت ښکاره کړي نو ليرې نه ده چې د دوستۍ او دښمنۍ په دې لوبه کې به خپل ځانونه بريالي راوباسي، که دوستان د خپلې دوستۍ تر خوږ عنوان لاندې له افغانانو نه خپلې سياسي او ستراتيژيکي ګټې اوچتوي نو افغانان دې هم له هغوی نه د ګټې ځولۍ تشه نه کړي ځکه چې د مفاداتو په دې دنيا کې هر څوک يو بل ته ضرورت لري او د ضرورت په خاطر هر څوک خپلې خپلې ګټې پالي، د ګټې په دې ډګر کې د آسيا زړه افغانستان له نورو ډېرو هېوادو څخه زيات مهم دی، افغانان دومره محتاج نه دي څومره چې نور هېوادونه د آسيا د زړه ګټو ته محتاجه دي، نه ښايي افغانان له خپلو ګټو نه لاس واخلي او په وړاندې يې ګونډې ووهي.

افغانی شدن پروسهٔ صلح

اعزامی

پروسه صلح در بدو امر به ابتکار دولت افغانستان آغاز شد و برای حصول این مأمل چهار سال قبل گردهمایی بزرگی از سران قوم و علما، دانشمندان و رجال دولتی برگزار گردید و در پایان مباحثات و رایزنی ها به تجویز جناب حامد کرزی شورای عالی صلح تشکیل گردید و ریاست آن به عهدهٔ استاد ربانی شهید گذاشته شد.

شورای عالی صلح طی مدت دو سال در داخل و خارج کشور تلاش های خستگی ناپذیری به خرج داد هیأت های این شورا بخاطر راه اندازی پروسه صلح به کشورهای پاکستان، عربستان سعودی، ترکیه، امریکا، ایران و... سفرهای داشتند تا با وادار ساختن طالبان برای شرکت درین پروسه، عملاً به کار آغاز نماید. همچنان در داخل کشور نیز مساعی صلحجویانه در مرکز و ولایات تشدید یافت، به نحویکه علاوه از تشکیل شورای ۷۰ نفری در مرکز در جنب آن دفاتر اداری و خدماتی نیز تشکیل گردید و به تقلید از مرکز در تمام ولایات و اکثر ولسوالی ها شوراهای صلح با پرسونل اداری و خدماتی تشکیل گردیدند.

پس از شهادت استاد ربانی، یقیناً که در کار این شورا سکتگی رخ داد، ولی دیری نگذشت که با انتصاب پسر ایشان درین پست، کار این پروسه تعقیب گردید.

ترکیز جدی این شورا پس از تشکیل روی این محور می چرخید که هیأت های شورای صلح در کجا و چگونه با طالبان دیدار و مذاکره نمایند؟ زیرا سران طالبان بخاطر درج بودن اسمای شان در لست سیاه شورای امنیت ملل متحد و تحت تعقیب بودن نیروهای امریکایی، در محضر عام ظاهر شده نمی توانستند. این معضل باعث آن گردید که با پا درمیانی آلمان گفتگوهای ابتدائی میان مقامات امریکایی و هیأت های طالبان نخست در جرمنی و بعدها در قطر صورت بگیرد و ضمن آن در مورد صدور مجوز یک دفتر برای طالبان و همچنان آزادی یکتعداد سران طالبان از زندان های گوانتانامو، بگرام و پاکستان و آزادی صدور ویزه و مسافرت، سهولت های قائل شوند. چنانچه تجویز دفتر طالبان در قطر، آزادی عدهٔ از سران آن گروه از زندان های افغانستان و پاکستان و دادن اجازه رفت و آمد به هیأت های آنها از دستاوردهای مهم همان گفتگوها بود؛ علی رغم دادن سهولت های فوق الذکر به طالبان تا حال کدام پیشرفت قابل ملاحظهٔ در مذاکرات صلح بین دو طرف صورت نگرفته و هر دو طرف کماکان بر پیش شرط های خویش تأکید میکنند.

مقامات دولت افغانستان به افغانی بودن پروسهٔ صلح تأکید دارند و هدفشان از این تأکید اینست که سوق و ادارهٔ پروسه صلح کاملاً در دست شورای عالی صلح باشد، خارجی ها درین پروسه دخالت نکنند و نقش آنها باید فقط زمینه سازی، تشویق طالبان و حامیان آنها به مذاکره و تدارک ضروریات و نیازمندی های پروسه باشد و بس. ولی از سوی دیگر طالبان با نادیده گرفتن نقش دولت افغانستان در پروسه صلح، بر اشتراک ایالات متحدهٔ امریکا به عنوان طرف اصلی قضیه در گفتگو تأکید دارند. وجود این اختلاف نظرها روی میکانیزم گفتگوهای صلح، موجب گردیده که با گذشت چهار سال از آغاز این پروسه تا هنوز کدام گام مثبتی در جهت اعادهٔ صلح برداشته نشود.

رئیس جمهور افغانستان در اشاره به پروسه صلح اخیراً گفت: برخلاف ارادهٔ صلحجویانه ما بعضی از کشورهای خارجی می خواهند که از پروسه صلح بحیث وسیله برای رسیدن به اهداف خود شان استفاده کنند، ما این تلاش ها را با دقت و احتیاط دنبال میکنیم، اگر خارجی ها به خواست ما حرکت نکرد و منافع ما را فدای اهداف خود شان نمودند، در آنصورت توطئه ها را افشا می کنم و به مشورهٔ شما دوستان و بزرگان تصمیم خواهیم گرفت.

از این اظهارات رئیس جمهور به صراحت پیداست که اختلاف نظر در جهت راه اندازی پروسهٔ صلح و ساختن میکانیزم آن میان هر سه طرف هنوز باقی است و هر طرفی تلاش دارد که پروسه را به محور منافع خود بچرخاند، در حالیکه با همچو نیات و مقاصد تکروانه و یکجانبه صلح بـه میان نمی آید.

بر کشورهای خارجی اعم از دور و نزدیک لازم است، بدون اینکه در پروسه صلح اهداف خود را دنبال نمایند، تلاش شان به این جهت متمرکز باشد که میان دو طرف قضیه گفتگو آغاز شود و هر طرفی که با وضع پیش شرط های غیر عملی پروسه را اخلال کرده و قضیه را به بن بست می کشند، باید همان طرف را درین روش برحذر داشته و به تنازل و گذشت دعوت نمایند.

درین شکی نیست که اصلاح بدون عفو، گذشت، تنازل و رواداری دو طرف به میان نمی آید و برای مصالحه قبل از همه به یک هیأت میانجی بی طرف ضرورت است، که متأسفانه تا هنوز به این نکته عطف توجه نشده است. شورای عالی صلح به دولت افغانستان مربوط است و هیأت صلح مستقر در قطر متعلق به طالبان می باشد. در حالیکه هیأت صلح مرکب از عناصر بی طرف، متقی، خیرخواه و دلسوز می باشند که به هیچ طرفی وابسته نبوده و از هیچ طرفی معاش و امتیازی بدست نمی آورند، بلکه اینها بدون داشتن کدام طمع و توقع و بخاطر کسب رضای خدا و برای اصلاح ذات البینی مسلمانان مصالحه میکنند.

پس افغانی شدن پروسه صلح، عدم دخالت خارجی ها در کار مصالحه، تشکیل هیأت های میانجی بیطرف با ترکیب معدود افراد مخلص، دلسوز، متقی و غیروابسته، از جمله شرایط مقدماتی اند که با رعایت آن پروسه صلح راه خواهد افتاد.

د هغه ړنګ مرتاسي غوره امت ګرځولی پاست چې پر خلکو ګراهان اوسي

شهادت

ورځپاڼه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي خانګه
د امتياز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدير: عبدالله "کامه وال"
مرستيال مدير: عبدالخليل "خليل"

د اړيکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدير: ۰۷۷۷۶۰۲۲۰۱
مرستيال مدير: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونيزه د هر ليکوال او د نظر خاوند د ليکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونيزه حق لري چې د ليکوال ليکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د ليکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالېږل شوي مطالب نه مسترديږي - يوازې سرليکنه د شهادت د اونيزې رسمي نظر دی.

ديزاين: خواجه وحيدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شانه، خوشال خان مينه - کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com

په قطر کې د طالبانو سياسي ...

چې د وسله والو طالبانو دفتر پرون (د غبرګولي ۲۸مه) د مازديګر په شاوخوا شپږ نيمو بجو رسماً پرانيستل شو.

سرچينې زياته کړه، د دې دفتر د پرانيستې په مراسمو کې د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت او وسله والو طالبانو استازو او د قطر چارواکو برخه اخيستې وه.

له بلې خوا وسله وال طالبان وايي، چې ياد دفتر به له نړيوالو سره د خبرو کولو او اړيکو د ښو کولو په موخه پرانيستی دی.

د وسله والو طالبانو وياند ذبيح الله مجاهد له لوري پژواک خبري اژانس ته په رالېږل شوي خبرپاڼه کې راغلي، چې دوی د ګاونډيو هېوادونو په ګډون د نړۍ له ټولو هېوادونو سره د متقابل احترام په نظر کې نيولو سره سې اړيکې غواړي او په خپل هېواد کې له امنيت سره سره په نړيواله کچه د امنيت او عدالت غوښتونکي دي.

په خبرپاڼه کې زياته شوې، دوی نه غواړي له خپلې خاورې نورو هېوادونو ته زيان پېښ کړي او نه هم بل چاته اجازه ور کوي، چې د افغانستان له خاورې د نورو هېوادونو امنيت وګواښي.

خو هغوی په ډاګه کړې، چې د هېواد د خپلواکۍ لپاره مبارزه خپله وجيبه ګڼي او د دې کار لپاره بې له هرې مشروعې لارې کار اخيستی او اخلي.

وسله وال طالبان وايي، چې د همدې ټګلارې د روښانه کولو لپاره دوی لازمه بللې، چې د قطر په هېواد کې د نړۍ له هېوادونو سره د اړيکو د ښه کولو، افهام او تفهيم او خبرو کولو په موخه سياسي دفتر پرانيزي.

دوی يادونه کړې، چې د ياد دفتر له لارې به د يوه داسې سياسي او سوله ييز حل ملاتړ وکړي، چې په هېواد کې د واقعي امنيت راتلل يقيني کړي.

وسله والو طالبانو زياته کړې، چې په قطر کې د دفتر له پرانيستو سره به له افغانانو سره ليدنې کتنې وکړي او د ملګرو ملتونو، نړيوالو او سيمه ييزو سازمانونو او غيرحکومتي موسساتو سره به اړيکه ټينګه کړي.

همداراز هغوی ويلي، چې د ياد دفتر له لارې به د اوسنيو سياسي حالاتو په اړه خپل سياسي ليدلوري او بيانونه د رسنيو په واک کې ور کړي.

نيروهای افغان رهبری تمام عمليات ...

که به تجهيز قوای امنيتی و دفاعی افغانستان متناسب با واقعيت ها و تهديدات موجود توجه اساسی نمايد.

ما مردم افغانستان خود را مکلف می دانيم که با استفاده از تمام امکانات ملی قوای هوايی و زمينی خود را به طور مکمل تجهيز کنيم، البته اين قوا را با وسايل مدرن و موثرمجهز سازيم."

نخستين مرحله واگذاری مسووليت های امنيتی به نيرو های افغان در ماه سرطان سال ۱۳۹۰ شمسی آغاز شده بود. مقام های افغان تاکيد می کنند که نيرو های امنيتی اين کشور توانايی و قابليت تامين امنيت کشور شان را دارند.

داکتر اشرف غنی احمدزی رييس کميسيون انتقال مسووليت های امنيتی می گويد که با واگذاری چهارمين دور از مسووليت های امنيتی وضعيت امنيتی در افغانستان بهتر شده است. در همين حال منشی عمومی ناتو از ادامه حمايت اين پيمان از نيرو های امنيتی افغان اطمينان داد.

اندرس فوگ راسموسن گفت که با ختم ماموريت جنگی عساکر خارجی در پايان سال ۲۰۱۴ در افغانستان، ماموريت جديد ناتو در اين کشور آغاز خواهد شد.

وی در ادامه گفت: "از سال ۲۰۱۵ به بعد يک فصل تازه يی آغاز می شود، ما نياز داريم تا پيشرفت های به ميان آمده را حفظ کرده و آن را بيشتر سازيم.

ناتو آماده است که در اين زمينه نقش اش را اجرا کند، يک جا با شرکای خود طرح ريزی يک ماموريت جديد و متفاوت را روی دست داريم که هدف از آن آموزش، مشوره و کمک به نيرو های افغان است.

ما نقش خود را در تلاش های وسيع بين المللی برای ادامه حمايت دراز مدت از نيرو های امنيتی افغان هم ايفا می کنيم."

اما سر منشی ناتو تاکيد کرد که برای ادامه حمايت بين المللی از افغانستان حکومت اين کشور بايد تعهدات خود را در راستای بهبود حکومت داری، مبارزه با فساد، رعايت حقوق بشر و برگزاری انتخابات آزاد، شفاف و سرتاسری عملی کند.

وی علاوه کرد که سربازان بين المللی در صورت ضرورت نيرو های افغان را در اجرای عمليات کمک خواهند کرد. در حال حاضر تعداد نيرو های امنيتی افغان به بيش از سه صد و پنجاه هزار تن می رسد اما مسوولان امنيتی در افغانستان همواره گفته اند که از نگاه تجهيزات به خصوص در بخش قوای هوايی با مشکل رو به رو اند.

آگاهان مسايل نظامی هم با توجه به همين مساله ابراز نگرانی می کنند که نيرو های افغان نخواهند توانست در عدم حضور سربازان بين المللی از کشور شان به درستی دفاع کنند.

امريکا له طالبانو سره د...

د متحده اياتلو يوه چارواکي ويل چې د سولې اساسي خبرې بايد په خپله د افغانانو تر منځ وي. او دغه چارواکي احتياط کاوه چې له حده ډېره خوشبينې ځرګنده نه کړي، او و يې ويل چې دا پر يوې اوږدې لار لومړنی ګام دی.هغه زياته کړه چې جګړې اکثراً د سولې په خبرو پايته رسيږي، خو هيڅ ضمانت نشته چې دا خبرې دې هرو مرو بريالۍ شي.

خو د اد ولسمشر اوباما د دې ژمنې د ترسره کېدو پر لور يو مهم او لوی ګام دی چې د امريکا جګړه به پای ته رسوي.

جنرال دوستم در شمال اسلحه ...

والی جوزجان می گويد، در صورت که توزيع سلاح ادامه پيدا کند، انتخابات آينده، رياست جمهوری با مشکلات روبه رو شده و مردم به شکل آزادانه شخص مورد نظر خويش را انتخاب نخواهند توانست.

محمد عالم ساعی والی جوزجان اين سخن را زمانی بيان می نمايد که يک روز قبل جنرال دوستم بالای منزل خانه والی حمله، مسلحانه را انجام داده است.

آقای ساعی علت اين حمله را ناپذيرفتن خواست های نا مشروع جنرال دوستم از جانب خويش می داند و هشدار می دهد، در صورت که جلو فعاليت های غيرقانونی دوستم گرفته نشود وضعيت شمال افغانستان به وخامت خواهد گرايد.

آقای ساعی می گويد: "اگر دولت با تمکين و درايت عمل نکند و اين مشکل افغانستان و مشکل مردم را مرفوع نسازد، شايد يکی از قربانيان من باشم، اما مبارزه ما بر حق است و من منحيث يک مسلمان تحصيل کرده ميدانم که انجام اين آمال جنرال دوستم، آمال غير اسلامی، غير شرعی و غير انسانی است و اگر يک نفر هم از من پشتيبانی نکند، من صدای خود را بلند می کنم."

در همين حال مسوولان حزب جنبش که رهبريش را جنرال عبدالرشيد دوستم به عهده دارد با تاييد توزيع سلاح می گويند، دوستم در قبال مردم شمال مسووليت دارد و به منظور دفاع از شمال اين سلاح توزيع شده است.

کينجه کارگر يکی از سخنگويان جنبش ملی اسلامی افغانستان می گويد،اين سلاح را کشور های خارجی به دوستم کمک نکرده، بلکه از امکانات شخصی خويش سلاح را به مردم توزيع نموده است. وی می گويد، اين سلاح اندک بوده و برای بلند بردن روحيه، مردم توزيع شده است.

کينجه کارگر می افزايد: "صفحات شمال و شهر شبرغان امن بود. اما اکنون شبرغان وضعيت اش خوب نيست و باعث نگرانی مردم ولايت جوزجان شده است، به همين اساس جنرال دوستم نبايد بی تفاوت می نشست و بی تفاوت هم نبود و از امنيت خود نترسيده، از محافظين خود کم کرده و به آن ها فرستاده است. اين نه مربوط دولت می شود و نه هم مربوط به کدام کشور ديگر، آنچه که از توانش بود آنرا انجام داده است."

توزيع سلاح در شمال باعث نگرانی مردم شده است. مردم از دولت مرکزی، کشورهای عضو ناتو و به خصوص ايالات متحده، امريکا می خواهند تا جلو هر گونه توزيع سلاح و به قدرت رسيدن دوباره، زورمندان را در اين ولايات بگيرند.

مردم می گويند، در صورت که يکبار ديگر توسط اين افراد سلاح توزيع شود، جنگ های يک دهه، گذشته دوباره آغاز شده و اين همه دست آوردها در بخش آزادی بيان و ديموکراسی به فراموشی سپرده خواهد شد.

گفته می شود اين تنها جنرال دوستم نيست که در شمال افغانستان دست به توزيع سلاح زده است، بلکه قدرتمندان ديگر نيز دست به اين اقدام زده اند.

افغانستان د نړۍ په رسنيو کې

په دوحه کې طالبان ته د دفتر د پرانيستلو ملاتړ شوی

فارن پالېسي خپرونه ليکي؛ چې افغانستان، متحدو ايالاتو او د پاکستان حکومت د سولې د مذاکرو د بريالیتوب لپاره په دوحه کې د طالبانو د دفتر د پرانيستلو ملاتړ کړی.

يو شمېر کسان دا فکر کوي چې؛ که طالبان له وسله والې دلې په قانوني سياسي اړخ بدل شي دا به د افغانستان د سولې د پروسې لپاره يو لومړنی مهم ګام وی.

خو تر اوسه د روغې جوړې لپاره هڅې يوازې په خبرو او شعارونو پورې محدودې پاتې شوې دي.

د فارن پالېسي په ليکنه، داسې هيڅ شواهد نشته چې ځرګنده کړي چې د طالبانو رهبري د سولې د موافقې لپاره رضايت لري يا دې کار ته مجبور دي.

په عين وخت کې جمهور رييس حامد کرزی چې غواړي نوم يې د سولې د ټينګونکي په توګه ثبت شي، تر ۲۰۱۴ کال مخکې چې د خدمت موده يې پای ته رسيږي، هڅه کوي د سولې يوه موافقه ترلاسه شي.

فارن پالېسي وايي، وسله والو طالبانو هم تر يوه حده په اصولو کې د جوړ جاړي له هڅو سره همکاري کړې، خو ولې روانو هڅو تر اوسه هيڅ نتيجه نه ده ور کړې؟

د فارن پالېسي خپرونې د دې په ځواب کې ويلي: دا څکه چې د دوحې پروسه د غير واقعي توقعاتو ښکار شوه.

د روغې جوړې لپاره داسې هڅې چې؛ هغه واضح اهداف او ستراتيژي ونه لري د کب نيولو تش چنګک ته پاتې کيږي څکه تشو خبرو ته هڅول د ناکامی سبب ګرځي.

دا خبرې يوازې په هغه وخت کې برياليتوب ته رسيدلای شي چې واقع بينانه اهداف ورته وټاکل شي، يوه ځرګنده ستراتيژي ولري، ملي وحدت موجود وي او له حوصلې څخه کار واخيستل شي.

بله ورځپاڼه وال سټريټ ژورنال ليکي: جمهور رييس حامد کرزي په پاکستان کې د وسله والو پر ضد د بې پيلوټه الوتکو له حملو سره شديد مخالفت ځرګند کړ.

په غير مترقبه ډول د ولسمشر حامد کرزي دا ځرګندونې داسې ښکاره شوې چې د هغه له پخوانيو خبرو سره په ټکر کې دي چې؛ د امريکا له متحدو ايالاتو يې غوښتنه کوله چې؛ په پاکستان کې د وسله والو د خالو د له منځه وړلو لپاره نور جدي اقدامات وکړي.

وال سټريټ ژورنال د ولسمشر کرزي د مطبوعاتي دفتر د اعلامیې له مخې د پاکستان د جيو تلويزيون سره د هغه د مرکې دا برخه چې (زه په پاکستان کې د بې پيلوټه الوتکو د حملو پلوې نه کوم، زه يې مخالف يم) بيا خپره کړې ده.

وال سټريټ ژورنال ورځپاڼه وايي چې؛ د امريکا متحد ايالات د پاکستان په قبايلي او غرنيو سيمو کې د القاعده شبکې د تروريستانو، د افغان او پاکستاني وسله والو پر ضد حملې کوي.

د وال سټريټ په حواله، سره له دې چې د امريکا په مشری له تروريزم سره د مبارزې اوسنۍ ماموريت د راتلونکي کال په پای کې بشپړيږي؛ خو امريکا يې چارواکي وايي بنايي د تروريزم ضد دا عمليات دوام وکړي.

چکي سوداګر په افغانستان کې ...

سوداګريزو فرصتونو د ارزيابۍ لپاره افغانستان ته راغلي ترڅو تصميم ونيسي چې؛ د ترانسپورت، برق او اوبو، ساختماني چارو او د معادنو په برخه کې پانګه اچونه وکړي.

يادو پانګوالو د چک جمهوريت سفارت استازو لو په افغانستان کې آسيا يا له پانګه اچونې څخه د ملاتړ اداري استازو د سې شنبې په ورځ د پانګه اچونې په غونډه کې د سوداګرو پر غوښتنو او پانګه اچونې بحث وکړ.

د چک سفير ميرو سلاوکوسک په کابل کې له دې هېواد سره د افغانستان په پخوانيو سوداګريزو اړيکو باندې خبرې وکړې او د چکي تاجرانو په پانګه اچونې يې خوښي ځرګنده کړه:

"چک هېواد هيڅ وخت افغانستان يوازې نه ده پرېښی او اوس هم د افغانستان يارغونې ته ليوالتيا لري ترڅو د افغانانو سره خپلو مرستو ته دوام ور کړي، زه ډېر خوښ يم چې چکي سوداګر د پانګه اچونې لپاره افغانستان ته راغلي او باور لرم چې د پانګې اچونې نور شرکتونه په افغانستان کې کار پيل کړي."

د چک جمهوريت د ۱۹۳۰ ميلادي کال راهيسي افغانستان سره سوداګريزې اړيکې لري او د اقتصادي اړيکو ترڅنګ اوس له افغانستان سره پوځي اړيکې هم لري. په افغانستان د برقي بسونه پروژه، چې اوس له منځه تللې او په هرات کې د سمنتو فابريکه هغه لويې پروژې دي چې چک جمهوريت په افغانستان کې کړې وې.

اوس د چک جمهوريت پينځه شرکتونو ليوالتيا لري چې يو وار بيا په افغانستان کې پانګونه وکړي.

د آسيا يا په افغانستان کې د پانګه اچونې د ملاتړ اداري مسوليتو په ياده غونډه کې وويل چې يو شمير افغان سوداګر به چک ته لاړ شي او هلته به نوي تجربې ددې هېواد له سوداګرو زده کړي.

د آسيا اداري مشر وفي الله افتخار د بهرنيو پانګوالو ليوالتيا په هيواد کې د افغان سوداګرو لپاره ګټوره وبلله.

حزب الله از سوريه بيرون ...

و تصفيه، قومی رو به رو استند که توسط دولت ها در سطح بين المللی و منطقه تغذيه می شود توسط کسانی که در فکر مردم سوريه نيستند."

دو روز پيش ازين سخنرانی رييس جمهور مصر، ايالات متحده، امريکا اعلان کرد که آماده است مخالفان رژيم سوريه را کمک نظامی کند.

همزمان با اعلان اين خبر، بن رادز معاون مشاوراميت ملی قصرسفيد گفت که واشنگتن اطلاعات موثق دريافته که نشان می دهد رژيم سوريه در برابر نيرو های مخالف حکومت از سلاح های کيميايی استفاده کرده است. اما، واشنگتن احتمال ايجاد ساحه، منع پرواز بر حريم فضايی سوريه را کم اهميت جلوه داد و آن را پر مصرف و خطرناک خواند.

اما، روسيه که يک متحد عمده، حکومت سوريه است درين مورد ابراز نگرانی کرده گفته است که ممکن است از راکت ها و طياره های امريکايی موجود در خاک اردن به هدف ايجاد ساحه، منع پرواز بر حريم فضايی سوريه استفاده شود.

ايالات متحده، امريکا گفته است که راکت های نوع پترايت و جت های جنگی اف شانزده را پس از تمرينات نظامی مشترک ميان امريکا و اردن در خاک اين کشور خواهد گذاشت.

واشنگتن و مسکو به تازگی پيشنهاد کردند که يک کنفرانس بين المللی به هدف پايان بحران سوريه بر گزار شود.

اما، جان کری وزير خارجه، ايالات متحده، امريکا گفته است که فرصت برای رسيدن به يک راه حل سياسی بعيد به نظر می رسد چون حکومت سوريه از سلاح کيميايی استفاده کرده است.

ولې پاکستان ته د جان کري ...

د سوريې د روان وضعيت له امله ځنډولی دی.

ټاکل شوی وه، چې جان کري د روانې ميلادي مياشتې په پای کې پاکستان ته لاړ شي.

د فرانسپرس خبري اژانس د راپور له مخې د پاکستان د بهرنيو چارو وزارت ترېره اونۍ وويل چې؛ جان کري به د پاکستان له نوی حکومت سره د دې هېواد په شمال لويديځ کې د سخت دريځو وسله والو په وړاندې د روانې جګړې او له افغانستانه د ناتو ځواکونو د وتلو په ګډون د خبرو لپاره د روانې جون مياشتې په وروستی اونۍ کې پاکستان ته راشي.

خو يوه لوړ رتبه پاکستاني چارواکي د سې شنبې په ورځ دې اژانس ته وويل چې؛ د واشنګټن له خوا د سفر اعلان نه دی شوی او هغه شاته غورځول شوی دی.

دغه چارواکي چې؛ خپل نوم يې نه دی ځرګند کړی وويل، په پام کې وه چې کري د روانې ميلادي مياشتې په پای کې دلته راغلی وای، خو دغه سفر بنايي د جولای مياشتې په پيل کې ترسره شي.

د امريکا د بهرنيو چارو د وزارت وياندې جين ساکي د دوشنبې په ورځ وويل چې؛ کري ډېر ليواله دی چې پاکستان ته ولاړ شي خو ځرګنده يې نه کړه چې نوموړی به کله دغه سفر کوي.

کري به لومړنی امريکايي لوړ رتبه چارواکی وي چې؛ د پاکستان د نوی صدراعظم په توګه د نواز شريف له ټاکل کېدو وروسته دې هېواد ته ځي.

د فرانسپرس په وينا د پاکستان او امريکا ترمنځ اړيکې په ايبټ اباد کې د القاعده د پخوانی مشر اسامه بن لادن د پيدا کېدو او د امريکايی خاصو ځواکونو د عملياتو په ګډون له ۲۰۱۱ کال راهيسې د پولړيښو له امله ډېرې خرابې شوې دي.

پاکستان افغانستان پولې ته نژدې پرځپلې يوی پوځي پوستې د ناتو د هوايي بمباری وروسته چې په نتيجه کې يې ۲۴ پوځيان ووژل شول دغه راز د ځلورو مياشتو په مخه له خپلې خاورې د ناتو د اکمالاتي کاروانو لارې بندې کړې.

د فرانسپرس په وينا اوس چې امريکا د راتلونکي کال ترپايه پورې يوزيات شمير عسکر له افغانستانه باسي، د دې هيواد په جګړه کې چې له څه باندې يوې لسيزې ته غځيدلی، د پاکستان همکاری ډېره مهمه ده چې د نوازشريف حکومت هم د ملاتړ ژمنه کړې ده.

خو د پاکستان په قبايلي سيمو کې پرمشکوکو طالبانو او د القاعده پرفعالانو د امريکا د بې پيلوټه الوتکو د بريدونو لانجه به د اړيکو د ښه کېدو په لاره کې يو ستر خنډ وي.